# د سيف الرحمن سليم په شاعرۍ د ترقي پسندۍ آثرات

# Impacts of Progressivism on the Poetry of Saif-Ur- Rehman Saleem

Muhammad Farooq Anjum*

**Abstract:**

Progressive movement has extensively influenced oriental languages including Pashto. This movement emerged in 20th century in Europe, against romantic and ideological thoughts. It has emphasized for reformation in social elements and aroused epical feelings of the writers. Thus political, social problems, patriotisms, love with freedom, class struggle and humanism became core themes of progressivism.

Consequently, Pashto literature especially Pashto poetry, welcomed this movement. Most of the writers and poets took part in progressive activities. Similarly, Pashto Poetry has also been enriched in producing progressive writings.

Saif-ur-Rehman Saleem is one of the prominent literary figures of Pashto literature. Like other poets of his age he is also profoundly influenced by progressive movement. The authors of this research paper have strived to unpack progressive notions of Saif-Ur–Rehman Saleem reflected in his poetry.

**Key words**: Progressive Movement, Pashto, Poetry, Literature, Saif-Ur-Rehman Saleem,

په نولسمه صدۍ کښې د ساتنس ډېر غوره انکشافات مخې ته راغلل او له دې کبله په انساني فکر کښې ډېر بدلون راغے. دغه شان په ژوند باندې ډېر ژور اثرات وغورزېدل. د دې سائنسي پرمختګ په نتيجه کښې په ۱۸۴۸ء کښې د کميونسټ منشوراشاعت په فکري دنيا کښې لوئے انقلاب راوستو. د دې منشور انقلابي نظرياتو، د ادب او فن په دنيا کښې يو تحرك پېدا کړو او له دې آمله ترقي پسند تحريك سر راپورته کړو او ډېر په تندۍ سره په عالمي ادب باندې خور شو. دا يو انقلابي تحريك ؤ چې د ادب او فن پخواني او زاړه تصورات ئې د مخې فنا کړه. په دې تحريك باندې کميونزم هم ډېر غټ اثرات پرېباسل. په دې حقله حنيف خليل ليکي:

* Assistant Professor, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad, Pakistan

"د ترقي پسند ادب اصطلاح ادب ته په کال ۳۲-۱۹۳۵ کښې د انجمن ترقي پسند مصنفين قيام سره راغلې وه او د دغه انجمن بنيادي نظريات د کميونزم طبقاتي او اقتصادي نظام نه متاثره وو"۔(۱)

بيا وړاندې دا ښاغلے پښتو ادب باندې د تحريك پسند تحريك د اثراتو او د دې دمقصديت په بابله ليکي:

"کوم مغربي ادبي تحريکونو چې په مشرق کښې اردو ادب ته خپل اثرات راکړه کړې ؤ ورسره ئې پښتو ادب ته هم څه خو نېغ په نېغه او څه د اردو په ذريعه په خپل تاثر کښې راوستے ؤ-هم ددغه تاثر لاندې چې د انجمن ترقي پسند مصنفينو کوم تنظيم په متحده هندوستان کښې وجود کښې راغلو نو اردو ادب سره سره ئې پښتو ادب ته هم لاره وکړه۔ د اردو ادب په حواله د ترقي پسند تحريك سر کرده کسانو کښې د سجاد ظهير، علي سردار جعفري، اختر حسېن رائے پوري، فېض احمد فېض، احمد نديم قاسمي، جوش مليح آبادي او مجنون گورکپوري نومونه په خصوصيت سره د ذکر وړ دي۔ خو د دوي ټولو پس منظر کښې د پريم چند حقيقت پسندي په نظر راځي۔ د متحده هندوستان د غوليکونکيو کښې د ډېرو تعلق د پښتو ليکونکو سره هم وو۔ خصوصاً د فېض احمد فېض، احمد نديم قاسمي او د جوش مليح آبادي نېغ په نېغه رابطه د پښتو اديبانو سره وه۔ څه خو دغو ترقي پسندو رفيقانو د رفاقت نتيجه وه او څه د پښتو د ليکونکيو د داخلي رجحان او معروضي حالاتو تقاضا داسې وه چې په پښتو کښې هم د ترقي پسند ادب تخليق وشي - د ترقي پسندۍ منشاء دا وه چې په ادب کښې دې د معروضي حقائقو ښودنه، د ظالم لاس نيول، د مظلوم مرسته، دنادار او د مفلس داد رسي، د اقتصادي خوشحالۍ لپاره جدوجهد او حريت پسندي دې د زلفو رخسار د تذکرو او مبالغه ارائۍ ځائ ونيسي۔ ادب دې په حقيقي معنو کښې د ژوند د راپېښو مسئلو تر جمان شي، هم دغه منشاء د پښتو ليکونکيو هم خپله کړه"(۲)

دې تحريك ادب د زميني حقيتونو سره ا شنا کړو او د خيا لی دنيا نه ئې راويستو او ادب د ادب دپاره نه بلکې ادب د ژوند لپاره د نظريې پابند ئې وګرځولو. ولې چې:

"ترقی پسند تحریک کا بنیادی نعرہ ''ادب برائے زندگی'' قرار دیا جاتا ہے۔اس سے مراد ادب میں اس زندگی کا نقشہ کھینچنا ہے۔ جس میں رہتے ہوئے مظلوم طبقات بے بسی، یاسیت، احساس محرومی اور ذلت کا شکار ہوتے ہیں اور اس کو بطور ٹھوس اور مجرد حقیقتوں کے جوں کا توں پیش کیا جاتا ہے۔اس سلسلے میں ان کرداروں کو پیش کیا جاتا ہے جو ان حقائق میں رہتے ہوئے شعوری سطح پر تلخ حالات کے دھارے کا رخ موڑنے میں نظریاتی پختگی اور کمٹمنٹ کا ثبوت فراہم کریں اور ان میں امید، حوصلہ اور جرات پیدا کر سکیں۔ایسے کردار اپنی نظریاتی پختگی اور کمٹمنٹ کے باعث بالآخر پشیمان یا شرمندہ نہیں ہوتے بلکہ جدوجہد اور فتح کی علامت بنتے ہیں"(۳)

ژباړه:د ترقي پسند تحريك بنياد ی نعره "ادب د ژوند لپاره"ګرځولے کېږي. د دې نه مراد په ادب کښې د هغه ژوند نقشه راکښل دي، په کوم کښې پاتې کېدو سره چې مظلوم طبقات د بې وسۍ، یاسیت، د محرومۍ احساس او د ذلت ښکار وي. او دا کوټلي او مجرد حقیقتونه هم هغسې وړاندې کېږي. په دې لړ کښې هغه کردار وړاندې کولے شي کوم چې په دې حقائق کښې پاتې کېدو سره په شعوري توګه د ترخو حالاتو مخ اړولو کښې نظرياتي پوخوالي او د کمټ منټ ثبوت ورکړي او په دې کښې اميد، حوصله او جرات پېدا کړي. داسې کردار د خپلو نظرياتي پوخوالي او کمټ منټ له امله بالاخر ښپېمانه يا شرمنده کېږي نه بلکې د هلو ځلو او بريا علامت جوړېږي.

يقيناً چې دې تحريك ادب د ژوند ترجمان جوړ کړو او" ادب د ژوند د پاره" د نظريې تائيد ئې وکړو. که مونږ وګورو نو ادب تل د امن اواز پورته کړے دے او د بدۍ د قوتونو ئې په ډګ مېدان په جار غندنه کړې ده خو ترقي پسند تحريك د ادب او ژوند دغه جوړ نور هم پوخ وروستو. په ادب کښې ئې مقصديت وزيږولے، ولې چې د ترقي پسندۍ بنيادي او لويه مدعا بشري وقار او سماجي معيار ښه کول او معاشره د ظلم زور ، بې انصافۍ او جهالت د تيارو نه راوباسل دي. دې تحريك شاعرۍ له يو نوے رنګ او آهنګ ورکړو. دجديد نظم يا جديدې شاعرۍ چې د روايتي مضامينو برعکس د خپل دور او د خپل آمروزه ژوند د مختلفو پېښو مکمله عکاسي پکښې شوې ده ، آغاز هغه وخت وشو کله چې د نولسمې پېړۍ د دويمې نيمايۍ په شروع کښې د برصغير مسلمانان د برطانوي سامراج د ظلم او استبداد ښکار ؤ او د خپل وطن او د خپل ملت د آزادۍ او خپلواکۍ دپاره ټول ملت يو شان هلې ځلې کولې چا د تورې او چا د علم او قلم په ذريعه. د دغه شاعرانو په مخکښې يو

واضح مقصد او نصب العين پروت ۇ په دې غرض د شعر د پاره د شکل نه زيات مضمون اهم ۇ. هم په دې وجه د دغه دور شاعرانو د روايتی ، رسمي او تقليدي موضوع او مضمون تجديد طرف ته توجه وکړه او د ژوند سره تړلي سماجي، معاشي ، سياسي او معاشرتي مسائل ئې د خپل نظم موضوعات وګرځول. خو کله چې د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې د ترقي پسندۍ رجحان د مارکسي نکته نظر د لاندې د پښتو ګلبڼ ته راغے نو دا په ډېر تېزۍ سره خور شو. ځکه چې هندوستان ته د دې تحريك د رار سېدو او خورېدو نه مخکښې هم دلته ليکوالو ادب په څه نه څه شکل کښې د ژوند د تقاضو ترجمان ګرځولے ۇ او د ترقي پسندۍ دغه عناصر د پخوا نه دلته موجود ۇ او د پښتنو په زمکه د ترقي پسندۍ رجحان ته يو سمسور مېدان جوړ ۇ. د دغه رجحان ترمخه ادب ژوند له تخليق کولے شي او د اديب کار دا دے چې د تهذيب په ارتقا کښې په شعوري توګه خپل رول ولوبوي. انسان دوستي ،استحصال ، دښمني ، معاشي مساوات ،جمهوريت پسندي او د ژوند په جدلياتي اړخ ژور نظر د دې رجحان ترمخه د نظم تنه بوده ده. ډاکټر انور سديد د ترقي پسندې شاعرۍ په حقله خپل خيال داسې څرګندوي.

"ترقی پسند شاعری میں زندگی کے خارج کو موضوع بنانے اور قاری کو براہ راست مخاطب کرنے کا رجحان نمایاں ہے۔ اس تحریک نے زندگی کي جبریت کو طنز کانشانہ بنایا۔ اور شاعر کو اس کے خلاف اونچی آواز میں احتجاج کرنے کی دعوت دی. نتیجہ یہ ہوا کہ سماجی اقدار کے خلاف رد عمل کا جذبہ پیدا ہوا اور معنوی طور پر اشتراکی حقیقت نگاری کوادب کي اصلی نہج قرار دے دیا گیا۔ چنانچہ ترقی پسندی شاعری نے جذباتی اظہار کے لئے جو تین ذرائع استعمال کئےان کی تفصیل حسب ذیل ہے:

اول: طبقاتی کشمکش کو متحرک کرنے کے لئے مزدور اور محنت کش کو موضوع بنایا گیا۔

دویم: نظام کہنہ کی شکست وریخت کے لئے انقلاب کو وسیلہ اور نئی سحر کو نشان منزل قرار دیا گیا۔

سوم: اولاً شاعر کی توجہ کا مرکز گوشت پوست کی عورت تھی لیکن انقلاب کے دور عروج میں اس عورت کی جگہ عروس وطن نے لے لی"۔(۴)

ژباړه: په ترقي پسند شاعرۍ کښې د ژوند خارج موضوع جوړول او قاري نېغ په نېغه د مخاطب کولو رحجان ځانګړے دے. دې تحريك د ژوند په جبر طنز وکړواو شاعر ته ئې د دې په ضد په اوچت آواز د احتجاج کولو بلنه ورکړه، نتيجه دا شوه چې د سماجي اقدارو

په ضد د غبرګون جذبه پېدا شوه او په معنوي توګه اشتراکي حقیقت نګاري د ادب اصل ډګروګرځولے شو. دغسې د ترقي پسند شاعرۍ جذباتي اظهار لپاره چې کومې درې ذریعې استعمال کړې شوې دهغې تفصیل په لاندې ډول دے-

اول: طبقاتي کشمکشن فعاله کولو لپاره مزدوران او خواري کښ موضوع جوړ کړے شو-

دوېم: د نظام کهنه ماتي لپاره انقلاب وسیله او نوے سحر د منزل نشان وګرځولے شو.

درېم: وړومبې به د شاعر د پام مرکز مېرمن وه خو د انقلاب د عروج په دور کښې د دې مېرمن ځائ عروس وطن واخستو. دغه شان اسماعیل ګوهر د ترقي پسند نظم د موضوعاتو په لړ کښې لیکي:

> "ترقی پسند شعراء نے حریت فکر اور جرات اظہار کا مظاہرہ کرتے ہوئے طبقاتی استحصال، جبر، سماجی ناانصافیوں، معاشی بدحالی، فرسودہ اور منفی روایات اور توہمات کے خلاف لکھا۔ انہوں نے سماج کے مکروہ چہروں سے پردے اٹھائے اور رومانیت کے بجائے محکوم و مقہور طبقات کے حقوق، انسان دوستی اور زندگی کے حقیقی مسائل کو موضوع سخن بنایا۔ نظم کے یہ موضوعات اور ایسا بے باکانہ لہجہ پشتونوں کے قومی مزاج کے عین مطابق تھا۔ عوام شاعر کو اپنے قریب اور اپنا حقیقی ترجمان تسلیم کرنے لگے۔ شاعری خلاوں سے اتر کر زمینی حقائق سے آنکھیں چار کرنے لگی مقصدیت نے نظم کو سماجی و معاشرتی اعتبار و وقار بخشا. موضوعاتی حوالے سے ترقی پسند وں کا کینوس بہت وسیع ہے۔ وہ کسی خاص علاقے یا خطے کی حد بندیوں سے آزاد، انسانیت کے عظمت کے نغمے گانے لگے"۔(۵)

ترجمه: ترقي پسند شاعرانو د فکر حریت او د جرات څرګندونې کولو سره سره د طبقاتي استحصال، جبر، سماجي ناانصافۍ، معاشي بدحالۍ، فرسوده او منفي روایاتواو توهماتو په ضد ولیکل. دوی د سماج ناوړه څهرې څخه پرده پورته کړه او د رومانویت پر ځای یې د محکوم و مقهورو طبقو حقونه، انسان دوستي او د ژوند حقیقي مسئلې د شعرموضوعا ت جوړ کړل. د نظم دا موضوعات او داسي بي باکانه لهجه د پښتنو د مزاج سره ښېخي سمه وه. اولس شاعر خپل نزدې او حقیقي ترجمان منل پېل کړل. شاعري د خلاء نه راکوزېدو سره د مځکنیو حقائقو سره بلده شوه. مقصدیت نظم ته سماجي اومعاشرتي اعتبار او عزت وبخښلو. موضوعاتي حوالې سره د ترقي پسندو کېنوس ډېر پراخ دے. هغوی د کومې ځانګړې سیمې یا منطقې د حد بندو نه آزاد ، د انسانیت د عظمت نغمې ووئیلې.

د ترقي پسند نظم موضوع یا مواد صرف تر سیاسته او طبقاتي لړي بري پورې محدود نه دي. بلکې په دې کښې د ژوند هر اړخ او د فطرت د رنګینیو ټولې موضوګانې ګډې دي. ترقي پسند نظم د موضوع په لحاظ د ټول ژوند نه ګېر چاپېره چورلي. د دې دائره محدوده نه ده او د ژوند په رنګه لامحدوده لیدے شي.

که په لنډو ټکو کښې ووایو، نو ترقي پسند تحریک د اشتراکیت سره سره د مقصدیت خبره کوي. څکه یې پر شرقي ژبو ژور اثرات پرېوتل. -

دغه ډول په پښتو ادب هم د ترقي پسندۍ ژور اثرات په نظر راځي. د دې تحریک په راتګ سره په پښتنو شاعرانو، لیکوالانو او ادیبانو کښې لوی فکري بدلون رامنځ ته شو چې په کښې یو نامتو لیکوال او شاعر سیف الرحمن سلیم هم دے -

هغه د یو ترقي پسند ه فکر خاوند دے. د نظم او غزل په مېدان کښې په ړومبي صف کښې حسابېږي. د ده شاعري د تخیل د لوړو منزلونو څخه تېرېږي. په خپله ساده او روانه ژبه کښې د خپل دړدېدلي زړه او ماحول ذکر په داسې ډول او زړه راښکونکو ترکیبونو سره کوي چې هر څه مخې ته د یو تصویر په شان څرګندېږي. اجمل خټك د ده د فن او کلام په حقله لیکي:

> "زما او د ادب د نقادانو په نظر کښې سلیم د خپل مخصوص رنګ و غزل تر نورو مقبول هغه شاعر دے چې د حسن او ښه د مستۍ او رنګینۍ د تغزل او فن ته د ژوند ډېرخوندناك او اثر ناك رنګ ورکوي. ورسره د پښتو او پښتون والۍ ملي جذبه هم د نغمي او تر مزې رنګ کښې داسې په فني نزاکتونو کښې لرزوي چې اورېدونکي او لوستونکي هم نشه کوي."(۲)

اجمل خټک چې په خپله یې ژوره سیاسي پوهه لرله او لوئې ادبي شخصیت هم ؤ، د سېف الرحمن سلیم شاعري یې په دې ستایلې ده چې په فکري، موضوعاتي او فني حوالوبرابره او معیاري ده. ـ هغه ټول خواږه لري کوم چې د شاعرۍ اساسي لوازمات دي.

همېش خلیل د سېف الرحمان سلیم د شاعرانه هنراو ترقي پسند فکر په حقله څه دا رنګه خیال لري لیکي

:"سلیم د جدیدي شاعرۍ د مکتب هغه فنکار دے چې کائناتي پس منظر کښې ئې انساني دړدونه ډېر زر محسوس کړل. سلیم د دړدېدلو، زېبدلو او خپلو حقونو نه د محرومه

انسانانو د ماتو زړونو ترجمان دے. هغه د خورانو او مزدورانو په ژوند د دنیوي خدایانو د لاسه د ظلم او جبر خلاف احتجاج هم دے او بغاوت هم. سلیم یو حساس شاعر دے چې د ذات او کائنات د ازلي او ابدي رابطې عرفان هم لري او د جدید دور د حقائقو نه د واقفیت باوجود هغه دا حقیقت هم محسوسوي چې شاعري و جمالیاتي دربار بهترین حسن دے.د سلیم شاعري د سوز، خلوص، محبت او تغزل بهترین امتیاز دے چې رنګین هم دې او شېرین هم دے". (۷)

ددې نه دا څر ګندیږي چې هغه په انسا ن او انسانیت مئین دے. د خپل ګېر چاپېر نه ښه خبر دے او هغه ته د مځکني حقیقتونو د انسا نی کشا لو اند ازه ده او بیا ئې هم دغه حقائق او د ژوند سما جي او معا شي مسئلو له د شعر ژبه ور کړې ده. سلیم د با چا خا ن د ډلې کلک ملګرے او د مارکس لېنن د نظریاتو نه متاثره ووځکه ئي کا کا جي صنوبر حسین سره عقیدت لرلو۔

عبد الله جان عابد د هغه د فکر او شا عر انه خوبو په حوا له وائي:

" اگرچہ وہ خدائی خدمتگار تحریک سے وابستہ رہے مگر فکری لحاظ سے کاکاجی صنوبر حسین سے متاثر تھے اور ادبی معاملات میں بھی انہیں اپنا استاد تسلیم کرتے تھے۔ ۱۹٤٤ میں تحریک آزادی میں ایک سرگرام کارکن کی حیثیت سے حصہ لیا۔ ۱۹۵۰ میں اپنی ادبی زندگی کا سفر آغاز کیا اور ترقی پسند ادبی تحریک کے ہم نوابن گئے۔ان کی شاعری اگرچہ مقدار کے لحاظ سے کم ہے مگر معیار کے حوالے سے اہم تر خصوصیات کی حامل ہے۔ سادگی، روانی، لہجے کی ملائمت، فنی پختگی، چابک دستی، رعنائیت، موسیقیت، وسیع تر معنویت، لفظوں کا حسین انتخاب، مفکرانہ گہرائی اور سماجی مسائل کا خوبصورت فنی پیرائے میں اظہار،ان کے کلام کی نمایاں تر خصوصیات ہیں" (۸)

ژباړه: که څه هم هغوی د خدائي خدمتګار تحریك سره تړون لرلو خو په فکري لحاظ له کاکاجي صنوبرحسین څخه متاثر ه ؤ او په ادبي معاملو کښې ئې هم دی خپل استاذ منلو. په کال ۱۹۴۴ء کښې د آزادۍ تحریك کښې د یو فعال غړي په حېث برخه واخسته. په کال ۱۹۵۰ء کښې ئې د خپل ادبي ژوند سفر پېل کړو او د ترقي پسند ادبي تحریك هم نوا جوړ شو. د دوی شاعري که څه هم د مقدار په لحاظ لږ ه ده خو د معیار په حواله ارزښتناکه ځانګړنې لري. سادګي، رواني، د لهجې ملائمت، فني پوخوالې، چابك دستي، رعنائیت، موسیقیت، پراخه معنویت، د لفظونو حسین انتخاب، مفکرانه ژورتیا او د سماجي مسئلو ښکلے فني پېرائے کښې اظهار د هغه د کلام ځانګړنې دي.

د سيف الرحمان سليم له ليکنو څخه دا هم په ګوته کيږي چې ادبي دنيا ته د راتللونه مخکښې د ده څه نه څه سياسي روزنه شوې وه. که څه هم تړون يې د پښتنو له يو سماجي تنظيم سره ؤ، خو بيا هم په فکري حواله يې رحجان بېل ؤ. همدا سوب ؤ، چې کله په باقاعده توګه يې ادبي هلې ځلې پېل کړې نو ترقي پسند تحريک ته ورګډ شو. ځکه يې د ترقي پسندۍ دغه فکري ځلا په شعر کښې برېښي.

سليم راز په خپل کتاب "تنقيدي کربني" کښې د هغه د ترقي پسندۍ په لور داسې اشاره کوي:

"سېف الرحمان سليم د پښتو ژبې يو ترقي پسند شاعر ، اديب او دانشور دے. يو ډېر ذهين، نکته سنج او صائب الرائے شخصيت دے چې د ادبي موضوعاتو نه علاوه په قومي مسئلو هم ژورنظر لري. د يو متوازي سوچ خاوند او د صحت مند فکر قلمکار دے او يو روشن خياله ، انسان دوست او جمهوريت پسند انسان دے چې د خپل چاپېرچل او معاشرتي ژوند ژور احساس او تنقيدي شعور لري چې په خپل کلام کښې خپل جمالياتي حسن او فني ښکلا سره موجود دے".(۹)

د مترقي سوچ لرونکي پښتو ژبې نقاد او ليکوال سليم راز د سېف الرحمن سليم پر شاعرۍ د ترقي پسند تحريک اثرات په کوټلو تورو کښې وړاندي کړي او دا يې په ډاګه کړے دي چې هغه په ادبي جامه کښې د وخت غوښتنو باندي د قلم نه ښه کار اخستے دے-

ښاغلے روښان يوسفزے ليکي:

"سېف الرحمان سليم هم پښتو ادب کښې يو فرد نه بلکې د يو شخصيت نامه ګرزېدلې ده. او په يو لحاظ هغه پېدائشي قوم پرست او ترقي پسند او بشر دوست شاعر دے. ځکه چې د خدائي خدمتګار تحريك د يو سرګرم غړي سيد جلال شاه په کور کښې ئې د اپرېل په وړومبۍ نېټه کال ۱۹۲۹ء کښې سترګې وغړولې. او وروستو چې هغه کله د خپل کلي په مکتب کښې داخل کړے شو نو هلته ئې د خپل نصاب سره سره ذهني روزنه او ترتيب د ميا ګجر د کلي يو قوم پرست او ترقي پسند استاد حميد الله وکړو او کله

چې سليم صېب لږ ډېر لوستل شروع کړل او د تورو ټکو په معنی پوهه شو نو خپل مشر ورور عزيز الرحمان به ورته د پښتو او اردو ادبي او سياسي مجلې راوړلې او داسې به د سليم صېب د ادبي او سياسي ذوق لږه ډېره تنده ماتېده. هغه د نهو کالو ؤ چې د خپل پلار سره د هندوستان د نامتو قوم پرست او وطن پرست لارښود مهاتما ګاندي د ليدو دپاره په کال ۱۹۳۸ء کښې ابېټ آباد ته تلے ؤ او د زلمي توب په زمانه کښې ئې د خپل يو رشته دار کره د هندوستان په مشهور ښار پونا کښې شپږ کاله تېر کړې ؤ چرته چې ئې ... دنامتو مترقي ليکونکو کرشن چندر او سعادت حسن منټو په ادبي محفلونو او ناسته پاسته کښې هم شريك شو. ځکه نو د اولسي ادبي جرګې د قيام نه وړاندې هم د قوم پرستۍ او ترقي پسندۍ په لحاظ لږه ډېره روزنه د سليم صاحب شوې وه."۔(۱۰)

سېف الرحمان سليم په پوره توګه د ترقي پسند ادب د ټولو تقاضو سره د دغه تحريك او نظام پيروي وکړه او دا پېروي صرف يو پردې نظام خپلول نه ؤ بلکې د خپلې معاشرې د مسئلو سره ئې ورله کلك تړون هم ورکړو او دغه ټولې مسئلې ئې په داسې ښکلي طرز وړاندې کړې چې دا ښځي زمونږ د خپلې معاشرې مسئلې په نظر راغلې.

که مونږ پر هغه نظر واچوؤ نو په هغې کښې ډېر داسې نظمونه په ګوتو راځي چې د ترقي پسنده فکر ترجماني کوي. لکه نظم د دوست په نوم " کښې د عدم مساواتو او طبقاتي کشمکش ښکلې نقشه راکاږي او بيا هم دغه رنګ نادارو او بې وسو سره د خپلې همدردۍ اظهار کوي. هغه وائي:

"ما نه زما د غم تشريح مه غواړه
که مناسب وي بيا تفريح مه غواړه

مانه بربنډ اولس لباس غواړي
پرېوتي خلق رانه لاس غواړي

مانه چاپېره يتيمان ناست دي
ولږو وهلې ماشومان ناست دي

کله تیونس کله وېتنام له ځمه
زه د عوامو هر یو لام له ځمه

راځه آشنا ! چې اول قام جوړ کړو
بیا که فرصت وي بیا به جام جوړ کړو"(۱۱)

مزدور د ترقي پسندې شاعرۍ یوه مهمه موضوع ګڼلې شي. سیف الرحمن سلیم په "زېرے" نومې نظم کښې مزدور ته مخاطب دے. د غټانو د استحصالي سلوك او د طبقاتي لرې برې ذکر کوي. مزدورانو ته د اتفاق درس او د انقلاب په ذریعه د نوي او روښانه جهان په وجود کښې د راتلو زېرے ورکوي.

"زما خوارانو مزدورانو وروڼو
اے محکومانو مظلومان وروڼو

زېرے چې مونږ د اتحاد وکړو
په خپل تنظیم مو اعتماد وکړو

مونږه منزل ته ډېر قریب راغلو
مونږ رفتار لکه د باد وکړو

اوس به که خېر وي خپل جهان جوړ کړو
مونږه تقدیر به د انسان جوړ کړو

ستوري به زمکې ته پسخېږي زمونږ
مونږ به د زمکې نه آسمان جوړ کړو

داسې جهان چې خوشحالۍ وي پکښې
هر یو موسم د سوکالۍ وي پکښې

د هر چا شونډو ته خندا اورسي
او د یو بل سره سیالۍ وي پکښې

د لوړو تندو شکايت به نه وي
د چل فرېب ډك سياست به نه وي

هلته ضمير به د چا نه خرڅېږي
د دې خبرو څه حاجت به نه وي

دلته خو فصل زمونږ نور يوسي
دانه دانه رانه په زور يوسي

ماشومان ټول راته نهر پرېږدي
مينځ نه روټۍ زمونږ د شكور يوسي

زمونږ د شونډو تبسم لوټ كړي
زمونږ آواز نه ترنم يوسي

په قوانيونو زمونږ خلې وتړي
مونږ نه طاقت د تكلم يوسي

د صبر جام زمونږ توئې شولو بس
د انقلاب بچې ښه لوئے شولو بس

اوس د دنيا څه ضرورت نه گڼم
زما يقين دے خلق پوئې شولو بس

زما خوارانو مزدورانو ورونړو
اے محكومانو مظلومانو ورونړو"(۱۲)

په "فېصله" نومې نظم كښې د مزدور او دهقان د محنت او د هغه د جذبې ستائنه كوي او بيا د سرمايه دارو د غاصبانه روئيو ذكر كوي.

شاړو بنجرو نه چمن سازوؤ
ښې اوربل مونږ د وطن سازوؤ

چرته غلې چرته ګلونه کړو
د مېوو بوټي شنه باغونه کړو

سينې د زمکې نه مونږ زر اوباسو
او په خپل وس ترې ټول جوهر اوباسو

بيا هم نهر يو او نهر اوسېږو
ځائې په ځائې ګرزو در په در اوسېږو(۱۳)

سيد سېف الرحمن سليم په خپله شاعرۍ کښې د نسلي امتياز ، او تضاداتو غندنه کوي۔ د ټولو انسانانو دړد غم خپل دړد او غم ګڼي۔ او په خپل چاپېرچل کښې د امن ، وروروليٰ ، مساواتو ليدلو آرزومند دے۔ او د خوار غريب ، دهقانانو د ښې ورځې په تلوسه دے۔ د خپل وخت د مسائلو او د اولس د نفسياتو نه ښه خبر دے او دا هر څه په خپل فن کښې رانغاړي۔ هم دغه وجه ده چې د هغه په کلام کښې سياسي شعور، طبقاتي احساس، د ژوند او سماج کشالې په نظر راځي۔ چې د هغه د ترقي پسنده فکر او ادب د پاره د ژوند د نظريې عکاسي کوي۔ ښاغلي سېف الرحمن سليم د ترقي پسنده نظريې او فلسفې ملګرتيا د ژوند تر آخري سلګو پورې کلکه کړې ده۔ هغه په نظم او غزل دواړو کښې ژور لاس لري۔ شاعري ئې زورداره ده او د اوچت تخيل څښتن دے۔ په خپل غزل کښې د زړه او د چاپېرچل کېفيتونه داسې رانغاړي چې ثاني نه لري۔ هغه د جديد غزل په حواله ډېر لوی او رجحان ساز نوم دے چې تل ترتله به ياد ساتلے شي او د نوي کول شاعران به ترې فني او فکري لارښودنه او ګټه پورته کوي۔ د هغه د غزل په هکله عبد الله جان عابد ليکي:

"سيف الرحمن سليم نے نظم اور غزل دونوں پر طبع آزمائی کی ہے۔ مگر بنیادی طور پر غزل گو شاعر ہیں۔ اس لئے تو اس کا سارا فنی کمال اور جوہر غزل ہی میں ابھر کر سامنے آتا ہے۔ مقصدیت کے اظہار کے لئے نظم کے پیکر کو موزوں سمجھا جاتا ہے۔ مگر یہ کام انہوں نے زیادہ تر غزل سے لیا ہے۔ اس لئے ان کی غزل مظلوم و محکوم اور ناآسودہ طبقات کی المناک اور دکھ درد کی ترجمانی سے معمور ہے۔ مگر یہ بات یاد رہے کہ وہ حقیقت پسندی کے شوق میں ایک لمحے کے لئے غزل کے فنی تقاضوں سے غافل نہ رہے اس لئے ان کی غزلیں پروپیگنڈے اور نعرے بازی میں ڈھلنے سے محفوظ رہیں اور حیات جاوداں پایا"۔(۱۴)

سیف الرحمان سلیم په نظم او غزل کښې طبع ازمائي کړې ده خو په بنیادي توګه د غزل شاعر دے۔خکه د هغه ټول فني کمال او جوهر هم په عزل کښې رامخې ته کېږي د مقصدیت اظهار لپاره د نظم پېکر موزون ګڼلے کېږي خو ژباړه: ولې هغه دا کار زیاتره د غزل نه اخستےدے،له دې کبله د هغه غزل د مظلوم، محکوم او ناآسوده طبقاتو د المناك او د غم درد ترجمانی نه ډک دے۔ خو ولې دا خبره دې یاده وي چې هغه د حقیقت پسندی په شوق کښې یوې لمحې له د غز ل د فني تقاضو نه غافله نهٔ خکه خو د هغه غزلې د پروپېګنډے او د نعرے بازی نه محفوظه دي او نه ختمېدونکی ژوند ئې موندلے دے۔
سیف الرحمن سلیم د خپل ترقي پسنده فکر اظهار د نظم سره سره په غزل کښې هم کړے دے۔ هغه په خپلو غزلونو کښې د سرمایه دارانه نظام مخالفت ، د غریب او مظلوم اولس مرسته او طبقاتي لرے برے ښکاره کړے دے۔لکه یو ځائے وائي:

"دنګې ماڼی ورله د جَم رژوم
دوي زیاتولو زمونږ غم رژوم

دا د ظلمونو فسادونو قلا
خورمه په خدائے باندې قسم رژوم

ته دې کوداله او ستك چلوه
زه به ئې په څوکه د قلم رژوم

اے د اولس انقلابي ځوانانو
درسره یمه ولاړ سم رژوم

وینو وهلې بوسیده برجونه
هسې پربوزي زه ئې کم رژوم

ستا د صحت او ژوندانه د پاره
دا مرکزونه د الَم رژوم" (۱۵)

هغه چې دړدېدلې او وینې وینې ماحول ، بې ځایه پابندو ، زورظلم او د خوارو لوږو تندو ته ګوري نو غزل لیکلو ته ئې قابو نه کېږي ځکه خو وائي:

"ولړې اخستے یم غزل نه لیکم
ښکلې قیصه به د اوربل نه لیکم

د حقیقت نوکونو کارې کړمه
توبه ده بیا به په توکل نه لیکم

دې پابندیو کښې آخر څه ولیکم
خوچې حالات نه وي بدل نه لیکم" (۱۶)

د درغلو رهبرانو او سرمایه دارو په ظالمانه رویو داسې ټکونه کوي:

"منم رهبر په خپله مخکښې لاړو
خو قافله خو ئې په شا راوسته

څومره جونګړو ته دې اور ورته کړو
چې خپل محل ته دې رڼا راوسته" (۱۷)

هغه په سماجي ناهموارۍ او طبقاتي درجه بندۍ د خپل ناخوښۍ اظهار کوي او د خپل خالق نه داسې ګیله کوي:

"د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم
لویه خدایه زه به چا چا ته سجده کړم" (۱۸)

هم په دغه موضوع بل غزل کښې دخپلو خیالاتو څرګندونه داسې کوي:

"داسې کلي کښې مې خلقه بودوباش دے
چې تاریخ ئې خون الود او دلخراش دے

که غازي دے که عالم زما د خاورې
په عالم کښې ئې شناخت د بدمعاش دے

د جهان د استعمار لاس کښې لوبیږي
هر باچا زما د ملك باچا د تاش دے

حوېلۍ او محلات ئې را زرغون کړل
د پارس کاڼے دانه که د خشخاش د ے"(۱۹)

هغه د سماج د بدلون او د برابرۍ د نظام د راتلو د پاره انقلاب ارو مرو ګڼي. او د خوارانو ، نادارو په زړه کښې دغه پټه جذبه داسې راپاروي.

"ملګرو مړه خو نه ئې سا واخلئ
وېښ شئ خبر خو د خواوشا واخلئ

لکه ساګ چانه سيلۍ وړے وي
څه جائزه د دې فضا واخلئ

د ژوند تيرې د نمر په څړيکو نه ځي
د حوصلو نه مو رڼا واخلئ(۲۰)

د هغه په غزل کښې طبقاتي سماجي شعور ،مزاحمت او رمزئيت خصوصي او د قدر وړ رنګونه دي. د هغوي غزل د مظلوم او محکوم انسانيت ، د اولس ، د خپلې خاورې ترجمان او لاربښود د ے. هغه په ډېر هنر د ترقي پسندۍ عناصر په خپل غزل کښې بيان کړي دي. د سليم راز ليکي:

"سيف الرحمن سليم د خپل عهد د انسان د مسائلو او اجتماعي نفسياتو نه خبر د ے هغوي د اولس غمونه او دردونه په تخليقي طور د خپل زړه او ضمير په غږ کښې بدل کړي دي د هغوي احتجاج خپل يو تهذيب او مهذبه رويه لري چې د اظهار په هنر پوهيږي يعني د هغوي اجتجاج د يو مهذب او مؤدب انسان احتجاج د ے. دا شان په مجموعي توګه د هغوي غزل د خپل قام د تهذيبي مزاج نمائنده او د خپل عصر د فکري صداقت ترجمان او عکاس د ے".(۲۱)

که د سيف الرحمن سليم د شاعرۍ مجموعي جائزه واخيستل شي، نو وئيلای شو چې د ده پر شاعرۍ د ترقي پسند ادب ډېر زور اثرات لوېدلي دي. په فکري حواله يې نظم او غزل دواړه د ترقي پسند تحريک له خوږو څخه برخمن دي. په تېرو پاڼو کښې يادونه شوې ده چې له کوشنيوالي يې له روښان فکرانو سره ناستې ولاړې شوې او په سياسي کورنۍ کښې

له روزني پرته، يې د ترقي پسند ادب له لوی عالمانو سره ليدلی او له هغوی څخه يې په فکري روزنه کښې ډېر بدلون راغلی ؤ-

له دې سوبه يې په شاعرۍ کښې داسي نمونې ډېري په نظر راځي چې له ترقي پسند تحريک او اشتراکيت سره د ده ژورې اړيکې په ګوته کوي. د اشتراکي فکر او فلسفې اساس د ظالم په مخ کښې د مظلوم په مرسته کښې ودرېدل او د ظالم پر ضد خپله مبارزه د قلم له لاري ساتل دي.

په لنډو ټکو کښې به ووايو چې د سېف الرحمن سليم په شاعري کښې افاقي حېثيت لر ونکی هغه پېغام په ډېره ښه توګه ځای کړے شوے دے، په کوم چې د ترقي پسندۍ عمارت ولاړ دے. او دا پېغام نه يواځي دا چې د پښتني ټولني دپاره د ے ، بلکې د نړۍ د ټولو مظلومو، محکومو، ځپل شوو، او وهل شوو قومونو له پاره د ے، کوم چې له انساني الميې سره مخ دي.

## حوالې:


۱۔حنیف خلیل، ډاکټر، آئیني، پېښور، دانش کتاب خپروندئ ټولنه، اپرېل ۲۰۰۱ ، ص ۱۱۳

۲۔هم دغه مخو نه ۲۳۱، ۲۳۰

۳۔ روشن ندیم،صلاح الدین درویش، جدید ادبي تحریکوں کازوال، پنڈی، گندهارا بکس، ۲۰۰۲ء مخ: ٤١

۴۔ انور سدید ،ڈاکٹر ، اردو ادب کي تحریکیں، کراچی ، انجمن ترقی اردو پاکستان ، ۱۹۸۳ء مخ:٥٣٧

اسماعیل گوهر، ڈاکٹر، پښتو نظم میں جدید رجحانات کا ورود، (مقاله) مشموله پشتو ادب کے ۵۔ جدید رجحانات ،مرتبہ عبد الله جان عابد، پېښور، یونیورسټي پبلشرز ، دسمبر ۲۰۰۸ء مخونه: ۷۲ ، ۷۳

۶۔ اجمل خټك ، قیصه زما د ادبي ژوند ، اوله حصه، لاهور، معراج دین پرنټرز، دسمبر ۲۰۰۵، مخ ۳۹۲

۷۔همېش خلیل، پښتانه لیکوال اول ټوك، پېښور، یونیورسټي پبلېشرز، جولائی ۲۰۱۰، مخ ۴۹۰

۸۔ عبد الله جان عابد ،ڈاکٹر، پشتو زبان وادب کي مختصر تاریخ ، پېښور،یونیورسټي پبلشرز۲۰۰۶ء مخ: ۲۲۷

۹۔سلیم راز، تنقیدی کرښې ، اداره نه لري ، نومبر ۲۰۰۰ء، مخ: ۱۱۹

۱۰۔روښان یوسفرے ، سریزه ، مشموله د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم ، د سېف الرحمن سلیم، پېښور، یونیورسټي ببلشرز ، مارچ ۲۰۰۸ء مخ:۱۹

۱۱۔ سېف الرحمن سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم ، مخ: ۲۰۷

۱۲۔هم دغه ، مخونه: ۱۲۵ ، ۱۲۶

۱۳۔هم دغه ، مخ: ۲۰۶

۱۴۔عبداللہ جان عابد،ڈاکٹر،پشتو زبان وادب کي مختصر تاریخ ، مخ: ۲۲۸

۱۵۔ سېف الرحمن سلیم ، د وړو وړو خدایانو دے بنده کړم ، پېښور ، مخ: ۱۲۳

۱۶۔هم دغه ، مخ: ۱۲۲

۱۷۔هم دغه ، مخ: ۹۸

۱۸۔هم دغه ، مخ: ۴۷

۱۹. هم دغه ، مخ: ۱۹۴
۲۰. هم دغه ، مخ: ۱۴۹
۲۱. سلیم راز، سریزه ،مشموله د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم ، مخ: ۹

**References**

1: Hanif khalil ,Doctor,ayenay, pekhawar, Danish khparundoyeh tolanah,april 2001, Makh 113
2: Hum dagha , makhona 230 - 231
3: Roshan Nadeem , Salah Uddin Darwaish, jadeed adabee tehrekon ka Ziwal , pindi, gandahara books , 2002, Makh 41
4: Anwar Sadeed , doctor, Urdu adab ki tehreekain, Karachi Anjuman-e- taraqe urdu Pakistan,1983, Makh 537
5: Ismail Gohar ,doctor ,Pashto Nazam me jadeed rujhanat ka Warwod ( maqala) mashmola Pashto adab ky jadeed rujhanat , murataba Abdullah Jan abid , Peshawar, university publishers , December 2008 ,Makhona 72,73
6: Ajmal khatak , qisa zama d adabee Zwand ( awala hisa ) ,Lahore , Miraj udin printers, December 2005, Makh 392
7: Hamesh khalil , pukhtanah likwal ( Awal tok),pekhawar,, university publishers, July 2010, Makh 490
8: Abdullah Jan abid , doctor, Pashto zuban wa adab ki mukhtasar tareekh ,Peshawar, university publishers, 2006 , Makh 227
9: Saleem raz , tanqidee krshy, idara na laree , November 2000, Makh 119
10: Rokhan Yousafzai, sarizah mashmola da Waro waro khudayanu Di Banda krum , da Saif -u- Rehman saleem , pekhawar, university publishers, March 2008 , Makh 19
11: Saif-u.Rehman saleem ,da waro waro khudayano Di Banda krum , Makh 207
12: Hum dagha ,Makhona ,125-126
13: Hum dagha ,Makh 206
14: Abdullah Jan abid doctor,Pashto zuban wa adab ki mukhtasar tareekh ,Makh 228
15: Saif-u-Rehman saleem , da waro waro khudayanu Di Banda ,Makh 163
16 : Hum dagha ,Makh 162
17: Hum dagha, Makh,98
18: Hum dagha, Makh,47
19: Hum dagha, Makh 194
20: Hum dagha, Makh 149
21: Saleem Raz , sariza mashmola d waro waro khudayanu Di Banda krum, Makh 9